د افغانستان اسلامی جمهوریت
مالیې وزارت

# شتمنی

د مالیې وزارت اونیزه خپرونه

زموږ مالیه — زموږ هیواد — زموږ راتلونکی

شماره یک صد و شصت دوم | یک شنبه | ۳ سنبله سال ۱۳۹۸ | سال تاسیس : ۱۳۹۴ هجری

## عناوین مهم

افغانستان او ازبکستان د اقتصادي، ترانزيتي او کلتوري دوه اړخيزو اړيکو په لا پراختيا او تعميق تينگار وکړ



اعلامیهٔ مشترک افغانستان و پنج کشور آسیای میانه با محوریت توسعهٔ روابط اقتصادی و تجارتی، امور زیربنائی و صلح و ثبات



دمالیې وزارت سرپرست د افغانستان لپاره د نړیوال بانک له رئیس سره وکتل



سرپرست وزارت مالیه بر اتصال آسیای جنوبی و آسیای مرکزی با مسوولین بانک جهانی گفتگو نمود



# افغانستان او ازبکستان د اقتصادي، ترانزيتي او کلتوري دوه اړخيزو اړيکو په لا پراختيا او تعميق تينگار وکړ



دازبکستان لومړي وزير سلاکار ښاغلي نادربيک اتاجانوف په مشرۍ د ياد هيواد لوړپوړي پلاوي د ماليې وزارت سرپرست او د زيربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفيسور محمد همايون قيومي، په بلنې په دوه ورځني سفر افغانستان ته راغلل اود۱۳۹۸ لمريزکال د زمري مياشتې په ۳۱ مه نېټه د دواړو هيوادونو تر منځ اقتصادي، ترانزيتي او کلتوري گډه غونډه د ماليې وزارت سرپرست او د ازبکستان د لومړي وزير سلاکار په گډه مشرۍ د افغانستان په ولسمشرۍ مانۍ کې جوړه شوه.

په دې غونډه کې د دواړو هيوادونو د اړوندو ادارو استازو گډون کړې وو، د ماليې وزارت سرپرست د ازبکستان پلاوي ته د ښه راغلاست تر څنگ د افغانستان او ازبکستان تر منځ د گډ بين الحکومتي کمېسيون د لاسته راوړنو او د دوه اړخيزو اقتصادي او سوداگريزو اړيکو په زياتوالي کې د دې کمېسيون له رول څخه يادونه وکړه.

نوموړي زياته کړه: افغانستان د ريل پټليو او جادو د جوړولو، کرنې، د نفت او گازو همداشان د نيمه قيمتي ډبرو د استخراج، نساجي او نباتي غوړيو د توليدولو په برخو کې د پانگونې ښه فرصتونه لري، د ازبکستان هيواد څخه چې په يادو برخو کې کافي تجربه لري غواړم چې په دې برخو کې پانگه ونه وکړي.

همداشان په دې غونډه کې دواړو لوريو د افغانستان او ازبکستان تر منځ د اقتصادي او سوداگزيرو اړيکو په لا زياتوالي او تعميق، د افغانستان، ازبکستان او قزاقستان تر منځ په درې اړخيزه ترانزيتي هوکړه ليک، د کابل حلقوي سړک، د قيصار لامان سړک او د کابل – سرخرود سړک په جوړيدو، د کرنې په برخه کې په ځانگړې توگه د افغانستان د پنبې په پلورلو او بنوالۍ کې په همکاريو، د ازبکستان په پوهنتونونو کې د ليسانس، ماسترۍ او دواکتورا په کچه دوه سوه افغان زده کړيالانو د تحصيلي بورسيو په ورکولو، د علمي، کلتوري او بنسټيزو برخو کې د متوسطو او اوږدمهاله همکاريو په موخه د دوه اړخيز هوکړه ليک په لاسليکولو، په ټول هيواد کې د خياطۍ د پنځو دستگاو د جوړيدو په برخه کې د ازبکستان په تخنيکي همکارۍ، د ځمکني ترانزيټ په ځانگړې توگه د ريل پټلۍ په برخه کې په دوه اړخيزو همکاريو، د چين، قزاقستان، ازبکستان او افغانستان د ريل پټلۍ په مسير کې د ترانزيټ او انتقالاتو د فيس په کمولو، د نساجي صنايعو په برخه کې په همکاريو او يو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو باندې خبرې وکړې او د غونډې د هوکړې سند لاسليک شو.

همداشان د ازبکستان لوړپوړي پلاوي د بابر بڼ له موزيم څخه د ليدنې تر څنگ هرات ولايت ته سفر وکړ او دې ولايت له يو شمېر تاريخي ځايونو څخه لکه د اختيار الدين کلا، د امير علي شير نوايې او گوهرشاد بيگم له زيارتونو څخه ليدنه وکړه او د اسلامي نړۍ د دغو علمي، کلتوري او سياسي شخصيتونو روح ته يې دعا وکړه.

په پای کې د دواړو هيوادونو دولتي چارواکو د هرات ولايت او د ازبکستان هيواد د باستاني ښارونو تر منځ د ژورو کلتوري مشترکاتو ته په اشارې سره، د دواړو هيوادونو تر منځ د هنري او کلتوري ټيمونو د سفر او د لا زياتو هنري او کلتوري پروگرامونو په راه اچولو تر څنگ د کلتوري همکاريو د زياتوالي غوښتونکي شول.

د امتياز خاوند : شمروز خان مسجدی د عامه اړيکو ريس او وياند
مسوول مدير : داود نظری
کتنپلاوی: فريد نوښت ، فردين معرفتی ،محبوبه بابری
تخنيکي همکار : ،عتيق الله عتيق، لينا شعيبی
ديزاينر :
برښناليک : tamas@mof.gov.af
اړيکشميرې: ۰۲۰۲۱۰۶۴۰۹

# اعلامیهٔ مشترک افغانستان و پنج کشور آسیای میانه با محوریت توسعهٔ روابط اقتصادی و تجارتی، امور زیربنائی و صلح و ثبات



محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امورزیربناءبه تاریخ ۱۵ اسد علامیه مشترکی را با محوریت توسعهٔ روابط اقتصادی و تجارتی، امور زیربنائی و صلح و ثبات با نماینده گان با صلاحیت پنج کشور آسیای میانه ( تاجیکستان، ازبیکستان، ترکمنستان، قرغیزستان و قزاقستان) صادر کردند.

هدف از صدور این اعلامیهٔ مشترک چندجانبه، افزایش و تقویت همکاری ها در عرصه های صلح، ثبات و وابستگی اقتصادی میان افغانستان و کشورهای آسیای میانه می باشد که از طریق سرمایه گذاری ها، تحکیم روابط اقتصادی و تجارتی مشترک و تقویت زیربناء ها گسترش و تداوم خواهد یافت.

در بخشی از این اعلامیه، سران کشور های آسیای میانه و افغانستان چنین تاکید نمودند:" ما نمایندگان پنج کشور جمهوری آسیای مرکزی(ازبیکستان، قزاقستان، قرغیزستان، تاجیکستان و ترکمنستان) و جمهوری اسلامی افغانستان تصدیق میداریم که در صلح و ثبات وابستگی و ارتباطات اقتصاد منطقه یی، منافع متقابل کشورها نهفته است. سعادت هریک از ملت ها وابسته به سعادت منطقه است، که از طریق تداوم تجارت و سرمایه گذاری روی زیربناءها بدست می آید." ایشان افزودند:" ما درد و رنج شدید افغانستان را در طی چهار دهه جنگ درک نموده و وضعیت فعلی برای صلح در افغانستان و منطقه را مهم می دانیم. از این جهت، ما روند کابل را پشتیبانی می نماییم و چهارچوب ایجاد شده برای صلح ۲۹ اپریل الی ۲ می ۲۰۱۹ را برای تحقق روند صلح به رسمیت می شناسیم. ما تأکید می نماییم که مردم افغانستان حق دارند در صلح و رفاه پایدار زندگی کند."

همچنان ایشان علاوه نمودند که ما تاکید بیشتر می نماییم که تلاش های یک جانبه در ارتباط به صلح می تواند یکپارچگی این روند را تضعیف نماید و به این منظور حمایت متداوم خویشرا از یک پروسه صلح چند جانبه تحت رهبری و مالکیت افغان ها با پشتیبانی شرکاء بین المللی حکومت جمهوری اسلامی افغانستان تعهد می نماییم. بنا بر این ما باورمند هستیم که اتخاذ یک موضوع واحد و قوی آسیای میانه در حمایت روند جاری صلح افغانستان بسیار مهم می باشد.

قابل تذکر است که در نشست سران کشورهای آسیای میانه با افغانستان بالای رشد و تحکیم مناسبات چندجانبه و مؤفقیت های سال های گذشته اعم از انتقال پروژه های انرژی برق و گاز به حنوب آسیا و ایجاد مشارکت های بنیادی و سرمایه گذاری در عرصه های انرژی، زراعت و توجه به عرصهٔ زیربناء ها از طریق میکانیزم های چندجانبه تاکید ورزیدند.

# د ماليې وزارت سرپرست د افغانستان لپاره د نړیوال بانک له رئیس سره وکتل



د ماليې وزارت سرپرست او د زیربناء په چارو کې د ولسمشرى عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفيسور محمد همايون قيومي، د۱۳۹۸لمريزکال د زمري مياشتې په ۳۱ مه نېټه د افغانستان لپاره د نړيوال بانک رئيس ښاغلي هينري کرالي، سره وکتل.

په دې کتنه کې دواړو لورو د ۸،۷۷ ميلياردە امريکايي ډالرو په ارزښت د مالي پانګونې په بستې، د دې بستې د تمويل په ځرنګوالي، له افغانستان سره د نړيوال بانک په مرستو او يو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په اړه هر اړخيزې خبرې وکړې.

## د ۱۳۹۹ مالي کال په ملي بودیجه کې د کندهار د خلکو اړتیاوو شاملو په موخه له دوی سره د حکومت مشورتي غونډه جوړه شوه



د ۱۳۹۹ مالي کال په ملي بوديجه کې د کندهار د خلکو اړتياوو شاملو په موخه له دوی سره د حکومت مشورتي غونډه په ياد ولايت کې جوړه شوه.

په دې غونډه کې د کندهار والي ښاغلي حيات الله حيات تر څنګ مرستيال والي، د ماليې وزارت استازي ښاغلي ضياالحق کاکړ، د ولايتي شورا غړو، د سکتوري ادارو رئيسانو، ولسوالانو، د ولسواليو د ولسي شورا او اقتصادي شورا غړو، مدني فعالانو، او د ياد ولايت يو شمېر اوسيدونکو ګډون کړی وو.

د دې غونډې اصلي موخه د روڼتيا او حساب ورکولو لپاره د سيمه ايزې حکومتولی پياوړتيا، متوازني پراختيا ته د رسېدل، د خدمتونو په وړاندې کولو کې د ښه والي، ښې حکومتولی ته په رسيدو او په ټول هيواد کې په اغيزمنه او متوازنه توګه د مالي سرچينو ځانګړې کول دي.

د کندهار والي ښاغلي حيات الله حيات، د دې غونډې د جوړيدو لپاره د ماليې وزارت له رهبرۍ څخه د مننې تر څنګ وويل چې د راتلونکې کال د ملي بوديجې لپاره هر سکتوري رياست نوی پلان جوړ کړی خو په خبره يې د ماليې وزارت له لوري په ښار او ولسواليو کې د خلکو غوښتنو سره سم له ملي بوديجې څخه ځانګړې بوديجه وټاکل شي .

د ماليې وزارت استازي ضياء الحق کاکړ ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ وويل چې ماليې وزارت د ملي بوديجې د لا ښه لګښت په موخه د ولايتي بوديجې لپاره ځانګړې پروسه په لاره اچولې چې له مخې يې هرې ولسوالي ته د ځايي اوسېدونکو په غوښتنه د نويو پروژو لپاره ځانګړې بوديجه ورکول کيږي.

همدا شان په دې پروګرام کې ګډونوالو ته د ماليې وزارت تخنيکي کارکوونکو توليز او هر اړخيز پريزينټيشن وړاندې کړ او د يادې ناستې په څنډو کې څو کاري ډلې جوړې او په اړوندو پنلونو کې يې ګډون وکړ.

د يادونې وړده، چې د دې پاليسي اساسي موخه د سيمه ايزو ادارو د پياوړتيا او د بوديجې جوړولو او د ملي پلانونو جوړولو په برخه کې د دوی ور ګډولو له لارې د مالي سيستم مرکزيت کمول دي، چې دا کرنه د بوديجې جوړولو په پروسه کې د خلکو ګډون ته لاره هواروي او په پای کې سيمه ايزو واقعي لومړيتوبونو په ټاکلو، د پلان جوړولو په سيستم او د بوديجې په اجراء باندې مثبته اغيزه لري. دغه عوامل په سيمه ايزه کچه د غوره خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې ښه رول لوبولی شي.



# سرپرست وزارت مالیه بر اتصال آسیای جنوبی و آسیای مرکزی با مسوولین بانک جهانی گفتگو نمود

محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربنا طی سفری ایشان بتاریخ ۲۱ اسد سال ۱۳۹۸ به ایالات متحده آمریکا با مسئولین بانک جهانی ملاقات نمود.

در این ملاقات سرپرست وزارت مالیه در رابطه به اتصال منطقوی بخصوص اتصال آسیای جنوبی به آسیای مرکزی بمنظور انتقال انرژی برق و گاز، تجارت و ترانزیت، نقش افغانستان در این راستا، ایجاد فرصت های اقتصادی و تجارتی برای منطقه و دیگر مسایل مرتبط معلومات مفصل ارائه نمود .

مسئولین بانک جانی ضمن استقبال و قدردانی از کوشش های افغانستان برای اتصال منطقوی و انکشاف زیربنا، از همکاری های شان برای تطبیق موارد یاد شده اطمینان دادند. در این نشست سفیر جمهوری اسلامی افغانستان مقیم واشنگتن دی سی خانم رحمانی نیز حضور داشت.



# د سیمه ایز اتصال عالي شورای دویمه تخنیکي ناسته وشوه

د مالیې وزارت سرپرست او د زېربنا په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفیسور محمد همایون قیومي، په مشرۍ د۱۳۹۸لمریزکال زمري میاشتي په ۱۴ مه نېټه د سیمه ایز اتصال عالي شورای دویمه تخنیکي ناسته د مالیې په وزارت کې ترسره شوه.

په دې ناسته کې د ښار دننه او بهر د ټرانسپورټي زېربنا په پرمختیا، د ټرانسپورټ وزارت سړکونو ملي اداري له لارې د سیمه ایزې نښلونې په تحقق، د سیمې او نړۍ هیوادونو ته د افغانستان هوایي نښلونې په زیاتېدو، د (PRISEC) کمېټې د کړنو راپور او د کسب او کار په شاخصونو کې د افغانستان موقعیت ښه کېدو لپاره په ګام پورته کولو، د خصوصي سکټور د پرمختیا لپاره د ملي لومړیتوب لرونکو پروګرامونو او قوانینو او اصلاحاتو چې د پرایسیک په کمېټه کې کار پرې وشوی وو، هر اړخیزې خبرې او د نظرونو تبادله وشوه او همدا شان اړینې لارښوونې وشوې .

د یادونې وړده، چې د بهرنیو چارو، ټولګټو، اقتصاد، ټرانسپورټ، مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ او مالیې وزارتونه او د ملکي هوایي چلند اداره د اتصال عالي شورای غړي دي .



## امضای قرارداد بخش سوم احداث شبکۀ توزیع آب پروژۀ آبرسانی میان دوره ئی شهر کابل به ارزش بیش از ۲۴ میلیون یورو در حضور اعضای شورای عالی اقتصادی

هشتمین جلسۀ شورای عالی اقتصادی به تاریخ ۱۶ اسد ۱۳۹۸۸ تحت ریاست محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء در مقر وزارت مالیه دایر گردید.

در این جلسه، طبیق اجندا در رابطه به تائید جلسۀ شماره هفتم سال ۱۳۹۸۸، گزارش مذاکرات پروژۀ سمنت سمنگان، طرزالعمل اعطای جواز صادرات سنگ های قیمتی و نیمه قیمتی، پروژه های مس و طلای زرکشان، طلای نورابه و سمتی، کرومایت خوست، سمنت هرات، تراورتین و مرمر غزنی، طرح تولید، پروسس، بسته بندی و بازاریابی آلوبخارا در ولایت غزنی، گزارش در مورد تقاضای صدور جواز های ملی فایبر نوری به ۴ شرکت، اعطای جواز اکتشافی ذخیرۀ مس شیدا و تعدیل بودجۀ سال اول پروسۀ اکتشاف غزنی بحث و تبادل نظر صورت گرفته و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

در اخیر قرارداد بخش سوم احداث شبکۀ توزیع آب پروژۀ آبرسانی میان دوره یی شهر کابل به ارزش بیش از ۲۴ میلیون یورو میان شرکت آبرسانی و کانالیزاسیون شهری افغانستان و شرکت ترکی هسلسان که از طرف بانک انکشافی آلمان تمویل می گردد، به امضاء رسید. که پروژه متذکره برای حدود بیست و سه هزار خانواده در نواحی دهم و چهارم شهر کابل آب آشامیدانی را فراهم می نماید.

# سرپرست وزارت مالیه با رئیس بانک انکشاف آسیائی برای افغانستان ملاقات تودیعی نمود



**محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست در امور زیربناء بتاریخ ۱۳ اسد ۱۳۹۸ با محترم ساموئل تامیوا، رئیس بانک انکشاف آسیائی برای افغانستان ملاقات تودیعی نمود.**

در این ملاقات، سرپرست وزارت مالیه از اینکه بانک انکشاف آسیائی کمک هایش را در مطابقت به اولویت ها و استراتیژی خودکفائی افغانستان همآهنگ نموده اظهار قدردانی و تشکری نمود. وی افزود که بانک انکشاف آسیائی از سال ۲۰۰۱ بدینسو پروژه های زیربنایی که به رشد اقتصادی افغانستان موثر می باشد، را تمویل نموده است، و بانک متذکره یک شریک قابل اعتماد نزد مردم افغانستان دانسته می شود.

محترم ساموئل تامیوا، رئیس بانک انکشاف آسیائی برای افغانستان گفت که یکی از تعهدات این بانک تمویل پروژه های است که در زنده گی مردم افغانستان تحول مثبت ایجاد کند. وی افزود ما همواره تلاش نموده ایم تا پروژه های زیربنائی را که به رشد اقتصادی افغانستان مفید تمام می شود، تمویل نماییم.

در اخیر طی ضیافت شام، سرپرست وزارت مالیه از کارکردهای رئیس بانک انکشاف آسیائی برای افغانستان در دورهٔ ماموریتش به این کشور تمجید و قدردانی نمود.

# پنجمین جلسه تخنیکی شورای عالی کاهش فقر، عرضهٔ خدمات و مشارکت شهروندی دایر گردید



پنجمین جلسهٔ تخنیکی شورای عالی کاهش فقر، عرضهٔ خدمات و مشارکت شهروندی مؤرخ ۳۱ اسد ۱۳۹۸ تحت ریاست محترم پروفیسور محمد همایون قیومی، سرپرست وزارت مالیه و مشاور ارشد مقام عالی ریاست جمهوری در امور زیربناء دایر گردید.

در این جلسه طیق آجندا، در رابطه به تطبیق پروژه های انکشافی در مناطق بعد از جنگ، تدوین استراتیژی ملی مصئونیت اجتماعی، رشد و توسعهٔ فابریکات ادویه سازی در افغانستان بحث و تبادل نظر صورت گرفته و تصامیم لازم اتخاذ گردید.

قابل تذکر است که هدف ایجاد شورای عالی کاهش فقر، عرضهٔ خدمات و مشارکت شهروندی، کاهش و مشخص ساختن عوامل فقر در کشور می باشد تا حکومت از طریق برنامه های منظم به گونهٔ اساسی در برابر فقر مبارزه کند. وزارت مالیه سکرتریت این شورا را به عهده دارد.

# د زیربنایي پراختیا شورا په دریمه تخنیکي ناسته کې د کابل ښار د سطحي اوبو په مدیریت او د سیمه ایيزې ریل پټلۍ له شبکې سره د افغانستان په نښلونې خبرې وشوې



د زیربنايي پراختیا دریمه تخنیکي ناسته د1398لمریزکال د زمري میاشتې په ۱۴ مه نېټه د مالیې وزارت سرپرست او د زیربناء په چارو کې د ولسمشرۍ عالي مقام ستر سلاکار ښاغلي پروفیسور محمد همایون قیومي، په مشرۍ په مالیې وزارت کې جوړه شوه.

په دې ناسته کې له اجنداء سره سم د کابل ښار د سطحي اوبو په مدیریت، په دې ښار کې د سطحي اوبو په راټولیدو، د ترکمنستان او ایران له لارې د سیمې د ریل پټلۍ له شبکو سره د افغانستان د ریل پټلیو په نښلونې، د ترکمنستان او ایران هیوادونو سره د ریل پټلۍ هوکړه لیکونو په لاسلیکولو بحث او د نظرونو تبادله وشوه په اړه یې لازمي پریکړې وشوې.